د افغانستان اسلامي امارت

د مشرتابه دفتر

نېټه: ۱۴۴۳/۳/۱۴هـ ق

ګڼه: ۳۰ج۱

بسم الله الرحمن الرحيم

## د مخکنۍ اداري له مسئولينو او کارکوونکو سره د چلند په هکله د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله

# فرمان

د عفوې تر فرمان وروسته د اسلامي امارت له خوا د مخکنۍ فاسدي اداري د مجرمينو د مجازات او عدم مجازات اړوند دغه ضميمه فتوی چې د علماء کرامو له خوا صادره شوې او د کره کتني د عالي اداري د شيوخو کرامو له خوا تاييد شوې؛ زما له خوا هم تاييد ده، بناءً د دې فتوی په رڼا کې خپل اجراآت ترسره کړئ.

والسلام

د اسلامي امارت مشرتابه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی رياست
د دفتر رياست
د محکامو او فرامينو د ثبت آمريت

د فرمان شمېره ۹
۱۴۴۳/۳/۱۶
۱۴۰۰/۸/۲

# استفتـــاء

بسم الله الرحمن الرحيم

الاستفتاء : که محترم علماء كرام دلاندې صورتونو په اړه جوابونه وليکې:

۱ – د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله له عفوې وروسته د وړاندينې فاسدې ادارې مجرمين د امارت لخوا مجازات کيدلای شي اوکه نه ؟

او د اميرالمؤمنين صاحب دامت برکاتهم العالية له عفوې وروسته عام خلك دغه مجرمين مجازات کولای شي اوکه نه؟

۲– د فاسدې ادارې کار کوونکي چې فاسدې ادارې ته تر ورتلو وړاندې کوم جرمونه کړي او بيا فاسدې ادارې ته ورغلي وي هغوی مجازات کيدلای شي او که نه ؟ اوضمان ورباندې شته او که نه ؟

۳– د فاسدې ادارې کار کوونکي چې د همدې ادارې په صف کې کوم جرمونه کړي وي اوس يې د عفوې يا امان څخه وروسته مجازات ورکول کيږي او که نه ؟ أو ضمان ورباندې شته أو که نه ؟

۴– د فاسدې ادارې کار کوونکو چې د فاسدې ادارې تر ختم کيدو وروسته کوم جرمونه کړي وي د هغوی مجازات څرنګه دي ؟ او ضمان ورباندې شته او که نه ؟

## الجواب : حامدا ومصليا

**و بعد د لومړي صورت په هکله** : بغاتو ته أمن ورکول هم داسې دی لکه نورو أهل اديانو ته چې امن ورکول کيږي ، دهر چا لخوا چې امن ورکول شو جواز لري . او د امان حکم دا دی ؛ چې که امام کومو کسانوته أمن ورکړي يا عفوه ورته وکړي بيا يې د موجب شرعي پرته قتل،اسارت،تعذيب او څور جائز نه دی.

البته د مجازات اوضمان يې ځيني استثنائي صورتونه شته کماسيأتي:

او د اميرالمومنين [ دامت برکاتهم العالية ] د عفوې څخه وروسته هيڅوك ددې کسانو قتل ، اسارت او اذيت بې شرعي وجې نشي کولای . في فتح القدير باب البغاة ( فروع ) ۱۳/۳۳۰ ، و إذا أمن رجل من أهل العدل رجلا من أهل البغي جاز أمانه ؛ لأنه ليس أعلى شقاقا من الكافر ، و هناك يجوز فكذا هنا . وجاء في الموسوعة الفقهية ۳۷/۱۷۰: ط

، بيروت . ذهب جمهور الفقهاء إلى أنه إذا وقع الأمان من الإمام أو من غيره بشروطه ، وجب على المسلمين جميعا الوفاء به ، فلا يجوز قتلهم ، ولا أسرهم ، ولا أخذ شيء من مالهم . ولا التعرض لهم ، لعصمتهم ، ولا أذيتهم بغير وجه شرعي .

**د دوهم صورت جواب :** په دې صورت کې چې دې خلکو کوم جرمونه کړي دي له هغوی څخه د اميرالمؤمنين صاحب دامت برکاتهم العالية په عفوه نه خلاصيږي ؛ بلکې د خپلو جرمونو موافق مجازات کيږي او هم ضمان ورباندي راتلای شي.

وجاء في البحر٢٣٩/٥وفي الهداية الباغي إذا قتل العادل لا يجب الضمان ويأثم ، في البدائع لا يضمن ما أصاب من دم أو جراحة أو مال ولو فعل شيئا من ذلك قبل الخروج وظهور المنعة أو بعد الانهزام وتفرق الجمع يؤخذ به اه

وفي رد المحتار ٣٤٢/٣ ؛ طب . وقال أصحابنا ما فعلوه قبل التحيز والخروج وبعد تفرق جمعهم يؤخذون به لانهم من أهل دارنا ولا منعة لهم كغيرهم من المسلمين ، أما ما فعلوه بعد التحيز لا ضمان فيه لما بيننا اه الي قوله وما كان قائما في يد كل واحد من الفريقين للآخر فهو لصاحبه.

**ددريم صورت جواب :** په ذکر شوي صورت کې دغه مجرمين نه شي مجازات کيدلای او نه ضمان ورباندي راتلای شي قضاءاً . او ديانة ورباندي ضمان شته ، او که دغه حقوق ادا نه کړي نو گنهگار دی او په آخرت کې مأخوذ کيږي . البته که د خلکو کوم اموال او اجناس چې اوس هم د دوی په لاس کې موجود وي نو هغه ورڅخه اخستل کيدلای شي.

في البحر ٢٣٩/٥ ؛ والحاصل أن نفي الضمان منوط بالمنعة مع التأويل فإن تجردت المنعة عن التأويل كقوم تغلبوا على بلدة فقتلوا واستهلكوا الأموال بلا تأويل ثم ظهر عليهم أخذوا بجميع ذلك ولو انفرد التأويل عن المنعة بأن انفرد واحد أو اثنان فقتلوا وأخذوا عن تأويل ضمنوا إذا تابوا أو قدر عليهم كذا في فتح القدير . وجاء في رد المحتار٣٤٢/٣، والحاصل أن نفي الضمان منوط بالمنعة مع التأويل ، فلو تجردت المنعة عن التأويل كقوم تغلبوا على بلدة فقتلوا واستهلكوا الاموال بلا تأويل ثم ظهر عليهم أخذوا بجميع ذلک ، ولو انفرد التأويل عن المنعة بأن انفرد واحد واثنان فقتلوا وأخذوا عن تأويل ضمنوا إذا تابوا وقدر عليهم الي قوله قال محمد رحمه الله تعالى : إذا تابوا أفتيهم أن يغرموا ، ولا أجبرهم على ذلك لانهم أتلفوه بغير حق ، فسقوط المطالبة لا يسقط الضمان فيما بينه وبين الله تعالى

**دڅلورم صورت جواب :** په دې صورت کې هم د اميرالمؤمنين صاحب دامت برکاتهم العالية تر عفوي لاندې نه شي راتلای او د خپل جرم مطابق مجازات کيدلای شي او هم ضمان ورباندي راتلای شي.

وجاء في البحر ٣٣٩/٥ وفي الهداية الباغي إذا قتل العادل لا يجب الضمان ويأثم . ولو فعل شيئا من ذلك قبل الخروج وظهور المنعة أو بعد الانهزام وتفرق الجمع يؤخذ به اهـ وفي رد المحتار ٣٤٢/٣؛ طب . وقال أصحابنا ما فعلوه قبل التحيز والخروج وبعد تفرق جمعهم يؤخذون به لانهم من أهل دارنا ، ولا منعة لهم كغيرهم من المسلمين.